ناول

# موري !
# دا جنګ ولې دی؟



Ketabton.com

لیـــکوال: الله محمد «پکتیاوال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ناول پېژندنه:**

**نوم : مورې! دا جنګ ولې دی؟**
**لیکوال : الله محمد پکتیاوال**
**چاپکال : ۱۳۹۶**
**کمپوزر : ع، ف، ا**

له لیکوال سره پر ټولنیزو رسنیو کې ملګري شئ

Paktiawal Zurmati
paktyawalzurmati
+92 3405215951
Allah.m987@gmail.com
Facebook Link :
https://www.facebook.com/paktyawalzurmati

د کتاب ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړوکی او کم عمره لیکوال

لیکوالي او خبریالی د ډیرو کسانو په اند و واند یوه داسی وړتیا ده چی هر څوک یی نلری ، بلکه یوازې هغوی چی لیکوالان یا خبریالان زیږیدلی وی.

نن زه هم تاسی ته یو داسی ځوان ، تاند او کم عمره لیکوال دریپیژنم چی له وړوکوالی لیکوال او خبریال زیږیدلی دی چی په ډیر کم عمر یی لیکوالۍ او لنډو کیسو لیکلو ته مخه کړې، دغه ناوول چی تاسی مخی ته نیولی او مطالعه کوئ یی د همدغه وړوکي لیکوال ښاغلی **الله محمد پکتیاوال** دی ، که څه هم ښاغلی پکیتیاوال صیب می له نږدی ندی لیدلی ، زموږ ملګرتیا او دوستی د فیسبوک مجازي نړی نه شروع شوی ده، د نوموړي هرې لیکنې او لنډې کیسې ته ډیر لیواله اوپه تلوسه کی یم تر څو یی په مینه ولولم او خوند ځینی واخلم.

په پښتو ژبه کی هسی هم د شعر پرتله د نثر برخه خواره ده ، په تیره بیا په هېواد کی د جنګ ناخوالو ته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ بدو خاطرو ته ډیره کمه توجه او پاملرنه شوی تر څو د جنګ ناخوالو او خاطرو ته د ناوول بڼه ورکړل شی او یا هم د جنګ ناخوالی په داسی طریقه او شکل ولیکل شی تر څو لوستونکی داسی تصور وکړی چی د روان جنګ ناخوالی او ټولی حادثی دوی په خپلو سترګو لیدلی وی.

خو له نیکه مرغه تاند ځوان او وړوکي لیکوال ګران الله محمد پکتیاوال د داسی کتاب لیکلو ته هوډ او ملا تړلی تر څو زموږ د ګران هیواد د روان جنګ ټولی ناخوالې او حقایق د یوې کیسی او ناوول په شکل ولیکی ، دا ناوول چی نوم یی مورې **دا جـــــــــــنګ ولـــــــی دی؟** نومیږی چی د یوې یی وسه مور او زوی ټول ژوند یی داسی په خوږه او روانه پښتو لیکلی چی لوستونکي به ورنه ډیر خوند او پند واخلي.

د دغه په زړه پوری ناوول(مورې دا جنګ ولی دی؟) لیکوال ښاغلی پکتیاوال صیب د هیواد د تاند او تنکیو لیکوالانو څخه دی چی ناوولونو او لنډو کیسو ته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه کړی ، زه یې همیش لنډی کیسی او ناوولونه لولم یوائځی دا نه چی زه ورنه خوند اخلم بلکه له نورو ملګرو او دوستانو سره یې هم شریکوم تر څو نور ملګری هم د دی لنډو کیسو او داستانونو څخه خوند واخلی.

انتظار مو نه اوږدوم ځو تر څو موږ دا جنګ ولی دی؟ مطالعه کړو او خوند ورنه واخلو.

**انجینر لطیف ظفرزی**

**ولسمشری مانۍ ارګ**

**کابــــل افـــغانستان**

**4 دلوه 1396**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شروع کې خو ما ته د سایل صیب دا بیت ډېر مخ ته مخ ته کېږي چې :

څوک دې ما ته نه وایي ما ټوله دنیا پېژنې

زه خپله عنوان خپله مضون یمه پښتون یمه

نن د یو داسې کتاب په هکله خبره کوم په نوم اوریدو سره یې سړي ته یوه دنیا خبرې په زړه کېږي، چې دلته ولې جنګ دی

په اصل کې به ډېر کم خلک دا فکر لري

داسې جنګ چې قاتل په کې هم زه او مقتول هم.

دا د نړۍ د جنګ لمړۍ کرښه ده

او زه د دې جګړې تنها جنګیالی

اجمل اند

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب په باره کې که زه خبره کوم نو دا به بيا هغې مقعولې ته زمينه برابره شي چې په وړه خوله غټې خبرې.

خبره به د الله محمد پکتياوال صيب نه شروع کړم. په پښتنو کې چې څومره ليکوالان دي د خوشحال خټک او رحمان بابا نه نيولې تر دې دمه په ټولنه کې چې کوم مقام لري هغه ورته نه دی ورکړل شوی او هر يو په خپل وار د خپلو خلکو ګيلې کړي

لکه حمزه بابا وايي

لواړګيني د شاعرانو قدر نه کړي

غورځولي يې لعلونه په ډېران دي

د خيبر له غرونو لمر د شعر وخوت

چې خورې يې پلوشې په هندوستان دي

حمزه قدر په خپل کور کې د چا نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عربو خلک کوم دی چې حاجیان دي

زه به هم درته دا خپله یوه قطعه ذکر کړم چې:

پښتنه مری مې تېغ لاندې زبون شوه

حرکات مې اوس ساکن لکه د میت دي

که ښېرې کوم بیا هم تباه یم ربه

د ارمانو قاتل مې واړه اهل بیت دي

ټول پښتانه زما اهل بیت دي

پکتیاوال چې د شعر سره هم علاقه لري په نثر کې هم ځانګړی مقام لري

او دغه ناول چې (مورې دا جنګ ولې دی؟) ما یې یوه برخه لوستلې چې په ډېر عجیبه انداز کښل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چې دغه برخه لوستله نو ما داسې فکر کاوه چې زما په وړاندې دغه ماشوم د خپلې مور د جنګ باره کې پوښتنې کوي او هغه ورته د سم ځواب ویلو نه ډډه کوي خو ماشوم یې بیا بیا پوښتي...

دلته ډېرې خبرې پکار وې چې باید ما کړې وې خو په اخره کې د ټولو پښتنو څخه هیله کوم چې باید دا کتاب یو بابېزه ونه ګڼې

لکه ځینې ناولونه داسې وي چې لوستونکی مشغول ساتي خو څه پیغام په کې نه وي

خو زه تاسو ته دا اطمینان درکوم چې دا به یو پیغام لرونکی او نه ستړی کوونکی ناول وي

او هغه څوک چې د شهرت لپاره کتابونه چاپ کوي او کوم مطلب په کې نه وي دا ادب ته غټ نقصان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوستونکي زړه ماتوي تر څو د يوه ښه کتاب مطالعې ته هم زړه نه ښه کوي

لکه افګار وايي

د ادب خونه به ولې نه ورانېږي

بې ادبو چې لاس واچوه ادب ته

عبدالهادي کامران

خيبر پښتونخوا، سوابۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسه لوستل انسان ته یو فکر او پیغام لیږدوي، په دې کیسه کې ډېر درد پروت دی، د هیواد اوسنی وضعیت یې ډېر ښه انځور کړی دی او ورسره د پخواني وضعیت پرتلنه په کیسه کې د یوې بې کسه او غریبې کورنی انځور په ډېر هنري او ښکلي ډول وړاندې شوی دی او د لوستونکي لپاره یکې یوه ښه پیغام پروت دی چې له علم سره مینه ښیي او د جنګ له ناوړه اوره کرکه کوي او د سولې او پرمختګ پیغام لوستونکي ته لیږدوي‍ه لیکوال هر څه ډېر ښه او ښکلي وړاندې کړي دي نورو لیکوالانو ته هم ښايي چې داسې کیسې ولیکي لکه چې په دې کیسه کې حقیتونه او واقعیتونه وړاندې شوي په پای کې لیکوال ته د همداسې نورو ښو او ګټورو کیسو لیکلو غوښتونکې یم چې په ټولنه مثبت بدلون راوستلی شي.

افسر خان ملا جان
ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ !

**د افغانستان غریب او مظلوم ولس ته چې شپه او ورځ د غمونو اوښکې تویوي او پرځای یې هیڅکله خوښي نه مومي.**

**مننه او کورودانی**

**له هدایت فرید ، عبدالطیف ظفرزی، شهنواز باقر بخت زاده دانش، عبدالوارث ترکي، د پښتونو راویښ شه خوځښت مشر سعیدالدین منګل، ادریس خان، عبدالهادي کامران او خپل کشری ورور مې عادل له ترکې څخه له دوی ټولو مننه کوم، چې تل یې د ادب په ډګر کې هڅولی یم او هڅوي مې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

پښتنه ټولنه څو لسیزو راهیسې له جنګ ـ کړېوان ده، حالات هم جګړو سره مشت و ویرجنه، غمجنه او تاوجنه هوا تنفس کوي.

موږ د یو داسې هېواد وکړي یو چېرته چې د فرضي لمونځونو څخه جنازې ډېرې کوو، دقیقه په دقیقه کواښ، نا امنې او په کوردننه خپلو کې لانجې لا هم راپاتې دي.

جنګ ـ جګړې څومره بدرنګي راوړه، د هېواد کلورینه او معطرینه فضاء یې څومره بېخونده کړه؟ د هېواد جنتي او طبیعي ښکلاوې یې څنګه ولوټلې؟ کڼ شمېر ورانی یې رامنځته کړي، لا هم هېوادوال د ارامی او هوسایی ساه نشي اخیستلی، ان تر دې د کوچنیانو پر روح و روان یې څومره بد او منفي اغیز کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه سوله خوښي خلک دي، دا چې د سولې پسرلی به د هېواد په غرونو کله څادر غوړوي؟ هغه پوښتنه ده چې د هر افغان په خوله زمزمه کېږي.

ناول؛ اندم چې ډېری له تاسو به د ناول له نوم سره اشنا یاست، عموماً ناول چې په اوسني شکل په اتلسمه میلادي پېړی کې رامنځته شوی دی، ناول د ایټالوي ژبې له Novella ریښې څخه اخیستل شوی دی چې د نوي څیز ، خبر او لنډې کیسې په معناوو کارول کېږي.

په ځینو نورو ژبو کې ناول ته رومان او په ځینو نورو کې یې د رومانس په نوم هم یاله شي.

د ناول په اړه بېلابېل تعریفونه موجود دي، له ځینو یې لاندې یادونه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناول : د اوږدې کیسې کتاب دی چې د ادبي نثر په شکل شوی وي.

ناول: هغه ادبي او تخیلي اثر دی چې چې کرکټرونه په ټولنیز چاپېریال کې تر څېړنې لاندې نیسي.

ناول : داسې نثري تخیل دی چې ټاکلې اندازه لري، یانې تر پنځوسو زرو کلیمو اووښتی وي.

د ناول په اړه کڼ شمېر نور تعریفونه هم شته، خو موږ پر پورتنیو ذکر شوو تعریفونو بسنه کوو.

په پښتو ژبه کې د لومړي ځل لپاره د اردو ژبې نه پښتو ته وژباړل شو، یاد ناول چې د ډپټي نذیر احمد ( مراه العروس) دی ،میا حسیب ګل په 1886 م له اردو نه پښتو ژبې ته ژباړلی او په 1957 م کال کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو ژبه کې لومړنی لیکوال چې د ناول لیکلو ویاړ ورپه برخه شوی هغه اروابناد استاد سید راحت زاخیلی دی چې د (ماه رخ) ناول یې یه 1912 م کې ولیکه، نوموړی ناول په پښتو ژبه کې لومړنی ناول ګڼل کیږي.

ع ، ف ، ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــــك ولــــــــــــي دى؟

اوښکلنې سترګې يې د مور په طرف واړولې.

موري ، موري ، موري .......... !!!

آې! موري دا جنګ کله ختميږي؛ نور مې ولې ښوونځي ته نه پريږدې؟

آه! رښتيا هغه د ځنګ ګاونډي چې زما لپاره جامې درکړې وې ، ولې نه ګنډې؟

د مور په شونډو مې يوه خندا غزونه وکړه، راته يې د خپل کوچني ورور د زانګو زنګېدل په ګوته کړل. کوچنی ورور مې چې له ژړا سور، اوښکې يې له سترګو بهېدې، په منډه منډه مې د خونې دروازه په کړنګيدلې اواز خلاصه کړه. يو څو سلګۍ يې وکړې. ما هم سترګې ومږلې ، د خپل کوچني ورور د زانګو رسۍ مې تر لاس ونيوله. يو څو ټالونه مې د تېز باد په شان ورکړل.

ورو غوندې موسکی شو، سترګې يې درندې شوې د خپل خيال پر خوب مې بيا يو ځلې ويده پرېښوده.

تر لږ ځنډ وروسته مې بيا يو ځل د خپلې مورجانې په طرف مخه وکړه، هغه مور مې چې زوړ پړونی يې پر سر، زړې جامې يې پر تن وې. له واره داسې برېښېده. تا به ويل چې د ګران هېواد اطلس ( نقشه ) مې تر مخې پرته ده . سم دم ورنږدې شوم ، ترې مې وپوښتل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــګ ولـــــــې دی؟

مورجانې دا څومره خلک مري ، دا ولې مري ؟

لاس يې راله پر سر کېښود. د مورجانې تر سترګو مې اوښکې روانې شوې، په ريږدېدلي لاس ، رپېدلو شونډو او هغه سوړ چاى.

آخ!

مورجانې دا اوښکې دې تر سترګو ولې روانې دي.

د ډېر ستر اښ ( حوصلې ) وروسته يې په وړه لهجه وويل.

آې! ګل لالا! چې د ډېره نازه به يې راته ګل لالا ويل.

خداى خبر!!!

په څه ګناه به يې نيولي يو. دا د يما اريانا وه. دا د احمد شاه او ميرويس خان د پښتنو وطن و.

دا باختري هېواد و، دا خراساني هيواد و، دوى کې يووالى او اتحاد و، ټول به پر يو ټغر کېناستل، دوى ولسونه درلودل، د پښتنو لوى او واړه قومونه موجود ول، دوى خوښۍ درلودې، لويې او وړې جرګې يې درلودې . عالمان به تر ټولو غوره خلک وو. مېلمه پالنه يې هم زياته وه ، د قومونو تر منځ بغض او کينه نه وه . پښتون به تر هزاره او هزاره به تر پښتون ځاربده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولـــــــــې دی؟

مور مې لا خبره نه وه خلاصه کړې، چې مې خبره ورغبرګه کړه.

په اریانا کې هم ځان وژنه زیاته وه؟

هلته هم په ځانمرګو بریدونو کې هټیوال، ماشومان او د سرک پر غاړه پلي بې ګناه خلک وژل کېدل؟

نه!

هغه وخت دا خبرې نه وې خلکو به خپلې خوارۍ او مزدورۍ کولې . یووالی د خلکو تر منځ حاکم و . ټول به دښمن ته په یو خوله ول . ګاونډي هېوادونه به یې د یووالي او زړورتیا ځنې ببرېدل. یانې د منځنۍ اسیا ډېری هېوادونه به یې تر خپلې ولکې لاندې ول.

دا چې له خفګان نه یې پرمخ د غوسې څو رنګونه ښکارېدل.

ماشوم ډېر بې صبره و، د ګرانې مور جانې خبره یې په نیمه کې پرېښوده، په بیړه راپورته شو.

خونې ته ننوت، په خونه کې یو انځور چې په هنداره کې بند و، انځور د خونې په دیوال راځوړند و، غوښتل یې چې انځور راواخلي ،خو انځور ته یې لاس نه رسېده.

شاوخوا یې وکتل چې تر څنګ یې بالښت پروت و، هغه بالښت یې راواخیست او تر پښو لاندې یې کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــک ولـــــــــې دی؟

انځور يې راواخيست په انځور دوړه پرته وه ، ماشوم په خپله خيرنه لمن انځور پاک کړ او د مور مخې ته يې راوړه ، په معصومه لهجه يې وويل ...

مورې !

پلار به مې اوس په جنت کې وي زه چې به ښوونځۍ ته تلم ؛ نو ښوونکي صيب به ويل ، چې څوک شهيد شي هغه به جنت ته ځي.

مور: هو! زويه پلار به دې اوس په جنت کې وي .

مور يې ورته جامې لړې برابرې کړې وي ورته يې وويل راشه زويه دا جامې درپورې ونيسم ، چې اوږدې يا لنډې خو به نه وي ماشوم راغی او انځور يې د ماشين څنګ ته کېښود او لاسونه يې پورته کړل مور يې هغه جامې ورپورې ونيولې برابرې وې ماشوم ويل ښه مورې اوس خو جامې صحيح شوې نو دا راته ووايه ، چې زما د پلار څه ګناه وه او چا وواژه.؟

مور يې وويل !

ستا پلار د هېواد ساتونکی و مور يې نه غوښتل ماشوم زوی يې خفه وګوري؛ نو د خپل ټيکري پيڅکه يې راواخيسته او د خپلو سترګو څخه يې د اوښکو غټ څاڅکي پاک کړل ماشوم بيا ورته وويل د وطن ساتنه ګناه ده؟ ماشوم چې سريې د مور په زنګون ايښی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــــک ولـــــــــــې دی؟

او د ښوونځي څخه په منع کولو ډېر خواشينی و .

مور يې ورته د پلار کيسه شروع کړه شپږ مياشتې وړاندې چې څو کسان چې وسلې ورسره وې او زمونږ دروازه يې ووهله .

ويل يې هله! هغه کافر سړی راوباسئ ، چې عسکري کوي، خو پلار دې کور کې نه و د کلي يو شمېر خلکو ورته وويل ، چې کله هم راغی . مونږ به درته بيا ووايو.

زه د دروازې شاته ولاړه وم او زړه مې ټکان کول ، چې څه به پېښيږي ؟

د اوړو کندو هم نور تش و، کور کې د خرڅې لپاره هيڅ روپۍ هم نه وې .

پلار دې ژمنه کړې وه چې راشم ټولو ته جامې کوم او د کور ټول اړين توکي به راونيسم .

ماشوم د اوښکو ډکې سترګې د مور مخې ته نيولې وې نری شمال و. باد د کوټې له شيشو څخه راننوت او د زانګو څخه يې څادر واړاوه کوچنی ماشوم لوڅ شو ما ژر د مور له زنګانه سر راپورته کړ او په زانګو کې مې خپل ورور پټ کړ.

بېرته د مور خواته راغلم .

مورې مورې .......

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موريې! دا جنـــــــګ ولـــــــــــې دی؟

ښه پلار مې بیا ولې رانغی ؟

مور یې چې ډېره اړه کړه ، ورته یې وویل!

ښه!

زویه پلار دې له مورږ نه، د هېواد سره زیاته مینه لرله مورږ ته یې دومره ارزښت نه راکاوه. خو په هېواد زیات مین و لوی ارمان یې دا و، چې جنګ ختم شي او سوله راشي او ټول خلک په خپل هېواد کې د خوښۍ احساس وکړي.

پلار به دې تل د هېواد په غم غمګین او په خوښۍ خوښ و.

هو!

ځینې وخت به دا غم دومره زوروور شو ، چې ستا د پلار سترګو نه به اوښکې لاړې. خپله دنده به یې په مېړانې سره سرته رسوله، له هیچا ځنې به یې وېره نه کوله کله به هم چې کور ته راته؛ نو د کور اړین توکي به یې ټول په جمع اخیستل او بیا به د خپلې سپېڅلې دندې په لور روان شو.

په وروستي ځل چې دې پلار دندې ته تلو، نو راته یې وویل چې په کوچنیانو باندې پام کوه، ماشوم ناڅاپه وویل هو! موريې!

هغه وخت یې ماته ویل چې اوس روپۍ راسره خلاصې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موريٖ! دا جنـــــــــــک ولـــــــــــــي دی؟

شوې چې بل ځل راغلم تاته ښايسته بکسه رانيسم .

ما ورته ډېر وويل چې پلاره زما د ملګرو سره ښايسته بکسې دي او زه په دې خيرن رومال کې نور ښوونځي ته کتابونه نه وړم.

پلار مې راتيټ شو په سر يې ښکل کړم او راته يې وويل.

زويه!

ماشوم چې له مور سره لګيا و ډېر خپه و، په مخ او شونډو يې د اوښکو څاڅکو لارې جوړې کړې.

مور يې هم ډېره خواشينې شوه .

پلار يې وويل، زويه!

بل ځل درته داسې بکسه رانيسم چې سارى به نه لري ته خوا مه بدوه.

ماشوم چې خفګان يې په شونډو مېلمه و، پلار يې ورته وويل.

ښا! اوس يو ځل وخانده ، ماشوم پوهېده چې پلار يې خپه کيږي، يو دم په ژړا شو .

نه، پلاره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موريږ! دا جنـــــــــــــــــــــــــــكـــــــــــــــــــــــــــولـــــــــــــــــــــــــــې دی؟

ټوکې مې کولې دا رومال مې زيات خوښ دی، روپۍ نه غواړم . مور راته هر سهار په رومال کې سره ډوډۍ ږدي.

مور يې ورته وويل چې بچيه ژاړه مه!

ماشوم يې سينې ته رانږدې کړ او ورته يې وويل زه خو يم کنه!

مور يې د زوی اوښکې پاکې کړې او ورته يې وويل:

زويه!

پلار دې په مېړانه مړ شوی دا ستا د پاره د افتخار خبره ده .

ماشوم ښه موريږ! پلار مې څنګه مړ شو؟ مور يې د تل په څېر نه غوښتل چې خپل زوی خفه ووينې ؛ نو خبره يې وربدله کړه .

زويه! ښوونځي ته دې پرېږدم او خپل سبق به دې وايې. زوی يې د اوښکو ډکې سترګې مور ته نيولې وې کله يې چې د مور خبره واورېده ، چې ښوونځي ته يې پرېږدي.

نو زيات خوښ شو . مور ته يې وويل!

موريږ! موريږ!

زه به ښوونځي وايم او ان شاءالله د خپل پلار په څېر د هېواد خدمت به کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــــک ولـــــــــــي دی؟

لا مو خبره نه وه خلاصه کړې. د لرګي زړه دروازه ووهل شوه. د دروازې اواز سره مور وويل يا خدايه خير کړې ماشوم ته يې مور وويل ورشه زويه وګوره، چې څوک دي؟

زوی يې پښې ابله  د دروازې خواته ولاړ چې يو سړی د دروازې مخې ته په غوسه ولاړ دی او انتظار کاږي چې د کوره څوک راووځي.

ماشوم : ماما څوک يې؟ هغه سړي ورته وويل مرګ ماما! تاسو سترګې نلرئ چې دا څوومه مياشت ده او د کور کرايه مو نده راکړې

ماشوم : ښه!

ته زما د پلار ملګری يې.

هو! کرايه خو مو نده درکړې او صبر چې زه مې مور ته ووايم چې د کور مالک راغلی دی.

ماشوم : مورې ، مورې! وا مورې!

د کور مالک د کرايې لپاره راغلی او ډېر غوسه دی وايي سترګې نلرئ دا څوومه مياشت ده چې کرايه مو نه ده راکړې.

مور يې حېرانه شوه چې دوی خو د خرڅې لپاره هم روپۍ نلري؛ نو د کور کرايه له کومه کړي؟ خو زوی ته يې وويل!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنــــــــک ولـــــــــې دی؟

زویه ورته ووایه! چې مور ته لږ وخت راکړه ستاسو کرایه به درکړو.

ماشوم چې ډېر معصوم او دردېدلی ښکارېده. ښه!

مورې که دا خبره یې راسره ونه منله بیا به څه کوو؟

موریې ورته وویل زویه خدای خو مو شته ولې داسې لېونۍ خبرې کوې . ته ورشه ورته ووایه. ځه.

زوی تر دروازې ورغی ماما مور مې وایې چې مور ته لږ وخت نور هم وګوره، مور ستاسو روپۍ نه خورو.

ماشوم ببر سر خیرن کالي او سترګې ډکې نیولې وې د کور مالک چې دریشي یې کړې ، قیمتي بوټ یې په پښو و یو خپه ( پښه ) یې د کور د سنګ کارۍ د پاسه ایښې وه او په بوټ کې یې د پښې پنجه ښوروله او داسې غوسه ناک مخ یې نېولی و.

مور به چې کوچنیان وو، چا به چې د روسي نوم واخیست. بس دغسې انځور به زما په ذهن کې تاوېده څنګه چې راته مخامخ سړی دومره غصه ښکارېده.

مالک ماشوم ته وویل، چې تر سبا وخت لرئ نور وخت مو بیا نشته او دکور څخه به ووځئ. ماشوم ډېر نهیلی د مور خواته راغی او د مور څنګ کې چوپ کښېناست. مور یې د زوی په ببر سر لاس راکش کړ او ورته یې وویل: ته مه خواشینی کیږه خدای خو مو شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــک ولـــــــــــي دی؟

ماشوم : موري که پلار مې وای؛ نو نن مې دغه ورځ نه لیدله. په دغه وخت کې د جومات څخه د اذان اواز راغی. الله اکبر......

مور یې وویل!

زویه!

ولاړ شه جومات ته د لمانځه وخت دی لمونځ وکړه. زوی یې هم د مور له امر سره سم خپلې زړې چپلې په پښو کړې او لمانځه ته ولاړ.

مور یې ځانته جای نماز وغوړاوه. زوی یې د جومات څخه راستون شو. مور یې په جای نماز ناسته وه او دخدای  څخه یې غوښتنه کوله.

اې خدایه! ته مو وینې ته په مور رحم وکړه ، ته ډېر مهربانه ذات یې .

زوی یې راغی د مور څنګ ته کېناست. د مور په سترګو کې اوښکې غمجن او خفه څېره یې ورته داسې ښکاره شوه لکه چې قیامت قایم شي .

موري، موري! پاک خدای  خو مهربان ذات دی. هغه به زموږ مرسته کوي. مور یې خپل پلو راواخیست اوښکې یې پرې وچې کړې. زویه! هو خدای مهربان ذات دی موږ به صبر پاک ذات ته کوو شپه تېره شوه سهار اذان شو مور یې اودس وکړ او په لمانځه ودرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنــــــــګ ولـــــــــــې دی؟

زوی یې په خونه کې ویده پرېښود، یو وخت چې زوی یې هم رابیدار شو. ګوري چې مور یې په لمانځه ولاړه ده د ګاونډیانو چرګ د دوی په بلۍ ګرځېده او بانګ یې کاوه. زوی یې هم جومات ته دلمانځه لپاره ولاړ. په جومات کې ټولو کلیوالو یو ببر سر یتیم او بې سایې ماشوم ولیده د جومات ملا هم ورباندې سم نظر نه کاوه.

بس لمونځ یې وکړ ماشوم کور ته راستون شو. مور یې یو زوړ دسترخوان راواخیست. په هغه کې سړه او وچه ډوډۍ پرته وه ماشوم ته یې چای واچاوو. زویه ناشته وکړه. زوی یې خپله مجبوري لیدله. لمر سره ځېړه ووهله نیمه سترګه یې د شمشاد د غره څخه راښکاره کړه ماشوم هم د وچې ډوډۍ شخوند واهه، مور یې نهیلې ناسته وه. لږ ځنډ وروسته دروازه ووهل شوه. د مور زړه یې ټکان وکړ ماشوم هم ډېر نهیلی و. کارغه په ونه کې اوازونه کول، ماشوم فکر کاوه، چې د کور مالک بیا راغی ژر تر ژره دروازې ته ورسېده. د دروازې تر سوري یې وکتل، چې څوک دی؟

لکه د اسمان څخه چې فرښته راښکته شوې وي. لکه چا یې چې زخمونو ته مرهم راوړی وې.

یو سړی چې خپل موټر یې د دروازې څخه ډېر شاته په لار کې درولی و. ماشوم هم حیران شو خو دروازه یې

یې خلاصه کړه ورته یې وویل !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــک ولــــــــــې دی؟

ماما څوک یې ؟ سړي چې د ماشوم دا حالت ولید، چې خیرن کالي او ببر سر پښې ابله، سترګو کې یې اوښکې راغلې او ماشوم یې خپلې غېږې ته جوخت ونیوه او سړی سلګو واخیست ماشوم ته یې وویل!

زویه! درنه ځار شم بلا دې راته وګرځه زه ستا د پلار د سنګر ملګری یم.

پلار دې مور سره یو ځای په کنډک کې و . ماشوم ورته وویل.

ښه، ښه! ته لومړی بریدمن خدایداد مظلومیار یې؟

هو!

پلار مې هم ستا په اړه مور ته ډېر څه ویلي دي.

خدایداد : هو زویه زه هغه مظلومیار یم ماشوم د سړي له غیږې ځان خلاص کو او د پلار ملګري ته زیات خوښ و؛ نو غوښتل یې چې مور خبره کړي ماشوم د کور په طرف منډه کړه او غږ یې کړ مورې ، مورې

وا مورې!

مور یې چې په خونه کې ناسته وه د زوی غږ ورباندې لکه د ټوپک ګولۍ دغسې ولګېده. هغه خوارکۍ نه وه خبره چې دروازه کې څوک دي هغې فکر کاوه چې د کور مالک راغلی دی ، خو زوی تر خونې د خوشالۍ نارې وهلې مور یې ویل خیر کړې خدایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــــک ولـــــــــــې دی؟

ولې زویه څه خبره ده؟ په دروازه کې څوک دي؟ ماشوم ورته وویل بریدمن خدایداد مظلومیار دی ، د پلار ملګری مې دی. مور یې هم د خدای ښنلي خاوند څخه د خدایداد په اړه ډېر اورېدلي و. وایي ډېر اتل او په وطن مین سړی و څنګه یې چې ځآنته نوم مظلومیار غوره کړی و همهغسې مظلومیار هم و. مور یې زوی ته وویل چې د کوټې خونې سره کټ ولاړ ده. هغه په انګړ کې واچوه.

زوی : مورې هغه خو ډېر زوړ دی
مور : زویه! ښه بل د کومه کړو؟ زوی یې کټ سم کړ.
مور ورته وویل ورشه زویه د پلار ملګری دې راوله.

زوی یې ورووواته ، ورته یې وویل.

کاکا جانه راځه دننه راځه. خدایداد په دروازه راننوت خپلې سترګې یې ښکته نیولې وې . ما هم راوسته د کور په انګړ کې په کټ کې کېناستلو مور مې په خونه کې دننه ناسته وه.

زه ډېر خوښ وم؛ نو اوبه او چای مې لا فکر کې هم نه وو.

مور مې په خونه کې په دې فکر ناسته وه، چې زوی مې د چای لپاره کله خونې ته راځي؟ چې مېلمه ته چای وروړي، خو زیات وخت وواته. زه هلته په کټ کې ناست وم اخر مې مور را غږ کړ، زویه راشه! کاکا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــک ولــــــــــي دی؟

دې چای دروړه. خدایداد چې ډېر غمجن و د واره یې وویل نه خورې چای نه څښم.

ښه!

مور یې ورته وویل : وروره سترې مشې. خدایداد چې سترګې یې ښکته نیولې وې ، نو ښځې ته یې وویل خورې خدای دې عزت وکړه.

خدایداد : ښه خورې ماته اوس ووایه، چې څه مشکل لرئ؟ مور. د کنډک پنځلسو ملګرو دا فیصله کړې، چې هر یو به له خپل معاش څخه زر افغانۍ تاسو ته درکوو.

دا د شپږو میاشتو روپۍ مې په یو ځل راوړې. ښځې فکر وکړ چې خدای پاک یې سوال قبول کړ، نو ورته یې وویل : وروره د کور ټول شیان نشته. سړي د جېب نه قلم او کاغذ راوباسه او ښځې ته یې وویل خورې راته وایه چې څه څه راونیسم؟ لنډه دا چې مور مې ورته سودا وښودله؛ نو ماشوم ته یې وویل ښه وراره ځه ځم چې د بازاره دغه سودا راوړم. ماشوم چې ډېر وخت بازار په سترګو هم نه وه لیدلای.

وه یې ویل ! کاکا! زه هم درسره ځم. ما هم بازار ته بوځه. زما ملګري د بازار ډېر تعریف کوي وایي ښایسته ځای دی زه خو هم درسره ځم.

ښه وراره بوځم دې، خو که مور دې اجازه درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــــك ولــــــــــــي دی؟

ماشوم : موري! زه ولاړ شم بازار ته؟ مور يې هم غوښتل چې زوی ناخوښ نکړي نو ورته يې وويل. هو زويه ولاړ شه. ښه راشه چې نورې جامې درکړم دا جامې دې خيرنې دي. ماشوم جامې بدلې کړې او د سر تيل نه وه مور يې ويښتان ورته لامده کړل او ورږمنځ يې کړل .

سړی ورته بيرون ولاړ و. ماشوم ورته راغی کاکا تيار شوم راځه چې ځو. ماشوم او خدايداد مظلوميار دواړه په موټر کې کيښناستل او د بازار په لور روان شول.

ماشوم چې د کلي کوڅې د موټر د ښيښو څخه کتلې. د کلي د خامې لارې څخه موټر پوخ سړک ته شو. د موټر سرعت لږ تيز هم شو، ما دسړک غاړې ونو ته کتل، ډېره جالبه راته ښکارېدله چې ونې ولاړې وې او موږ روان وو، خو ماته داسې معلومېده چې موږ ولاړ يوو او ونې روانې دي.

خدايداد لارې ته ګوري او زه هم غلی ناست يم.

د ښار لومړۍ پوسته کې تلاشي وه موږ ته عسکرو لاس راکړ، مخکې راڅخه نور موټرونه هم ولاړ وو. زموږ موټر ورپسې ودرېده. هلته د عسکرو مشر د خدايداد خواته راغی.

سلام يې واچاوه.

خدايداد وعليکم سلام ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــګ ولــــــــــي دی؟

د عسکرو مشر : ښه وروره د موټر تلاشي اخلو، مهرباني وکړئ دا ډیګی خلاصه کړئ؟

خدایداد : په دواړو سترګو تلاشي واخله.

عسکرو تالاشي وکړه او ویل یې وروره د مزاحمت درڅخه بښنه غواړم تاسو تلی شئ.

خدایداد : خدای دې وبښه. موټر روان یې کړ. ښار ته لږه لاره لاپاتې وه ، خدایداد یو ناڅاپه وویل وراره تاسو ټول کور کې څو تنه یاست؟

ما ورته وویل زه ، ورور ، مور او او انا مې اوس په روغتون کې ده. هغه چې مې د پلار شهادت څخه خبره شوه نو په دواړو سترګو شبکوره شوه زه مې په انا زیات ګران یم.

لاره لږ بنده شوه موټرونه په قطار قطار ودرېدل هارنګونه شروع شول ناڅاپه یو تور سپېره لاس د موټر د شیشې څخه رادننه شو او زما مخې ته یې ونیوه . زه نه پوهېدم ، چې دا سړی څه وایي ، خو ما خدایداد ته وویل کاکا!

دا څوک دی؟

خدایداد چې راوکتل سړي وویل د خدای په نامه څه راکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موريږ! دا جنـــــــــګ ولـــــــــــــــــيږ دی؟

معذوره يم ، واړه واړه زامن مې دي له لوږې راته مري يو څه راکړه دعا به درته وکړم. ما دسړي دغه خبره واورېده ډېر زيات خفه شوم ماته داسې ښکاره شوه چې زما پلار دلته ولاړ دی او سوال کوي. خدايداد د جېب څخه پنځوس افغانۍ راوباسلې او وريې کړې. موټر کابو څلور متره مخکې شو بيا موټرونه ودرېدل.لار لا همهغسې بنده وه ما د موټر د ښيښې څخه سر راوباسه، شاته مې وکتل چې هغه سوالګر و.

وينم د هغه يو پښه په زنګون کې پرې شوې وه. خړ پيوندي څادر يې وه بس زړه مې غوټ ورته مات شو ما خدايداد ته وويل چې د دې سړي پښه ولې نشته هغه راته وويل ، چې دا يو سړی ندی. دلته جګړو د ډېرو لاسونه، پښې او سترګې وړي دي، دلته بدبختي ده جنګونه دي خدای پاک دې نور امن راولي.

ښه!

زما زړه چې هغه سړي ته بد و، بيا مې پوښتنه ورڅخه وکړه. کاکا!

ښه، داسړی به اوس څه کوي؟ او دا عاجز خو خپله نيم سړی دی به خپلو ماشومانو ته څه وګټي؟

خدايداد : خدای ښه پوهېږي وراره زه نه پوهيږم ښه لار خلاصه شوه په موټر کې مصنوعي انګور د موټر په روانېدا وښورېدل او دا ښار څه بلها ښکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــک ولـــــــــې دی؟

بس د ښار هټۍ ، مارکیټونه ، پلازې شروع شوې.

په ښار کې د کلي په رنګ خامه دېوالونه نه وه ښار رنګا رنګه ښکلا لرله. د ښار ماشومان زما په څېر په خیرنو جامو کې نه ګرځېدل.

د خدایداد  په مخ نرۍ خوله راغله وروسته یې موټر مارکیټ ته راوګرځاوه او د مارکیټ مخې ته په تم ځای کې یې ودراوه. خدایداد  له موټر نه ښکته شو او زما د څنګ دروازه یې خلاصه کړه راته یې وویل وراره جانه راځه راښکته شه، چې جامې درته واخلم.

زه هم له موټر څخه په بیړه راښکته شوم ، خدایداد  د لاس څخه ونیولم. د مارکیټ دویم پوړ ته اوچت شو.

خدایداد  ښیښه یي دروازه خلاصه کړه او مارکټ ته دننه ورغللو. ماته ډېره جالبه ښکاره شوه. د مارکېټ انګړ زمونږ د انګړ په څېر نه و.

ښایسته سپینې ښویې تیرې یې لګولې وې. ماته یې هسې خوند راکاوه. پښه مې د ماشومانو په څېر په خوشالۍ کش کړه.

خدایداد  هلته د ځوړندو جامو څنګ کې ولاړ و. ماته یې ویل راشه!

وراره ځانته دې جامې خوښې کړه. موږ سودا واخیستله د مارکېټ څخه راووتو.نو زه چې څنګه د مارکیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــــــګ ولـــــــــــــې دی؟

دروازې څخه راووتلم ، خدایداد سره سودا وه ناڅاپه مو د چاودنې یو غټ اواز واورېده، چې ډېر جالب او دروند اواز یې و.

دلته یې ښیښې هم ماتې کړې. زه نا اشنا وم ما د خدایداد په طرف ورمنډه کړه. هغه په بیړه زما خواته راغی زه سخت وډار شوم، وارخطا وم. زړه مې په تېزۍ سره ټکان شروع کړ، خو خدایداد په غیږ کې کلک ونیولم. ماته یې وویل!

وراره! هیڅ خبره نه ده دا به چېرته د موټر ټایر ډز وهلی وي ته مه وارخطا کیږه.

زما فکر ته مې د خپلې مور خبره راغله . وایي زویه هغه وخت به په ښار کې بې ګناه هټیوال ، ښاریان نه مړه کېدل هلته لوی او خپلواک افغانستان و. زما په وجود هم لړزه راغله خدایداد په غیږ کې اوچت کړم ویل یې لېونیه مه وارخطا کیږه هیڅ هم نه دي شوي.

زه یې د موټر په سیټ کې کېښنولم او خدایداد هم موټر ته راپورته شو ماته یې د موټر سیټ لږ شانتې ښکته کړو ویل یې وراره ویده شه هیڅ هم نه دي شوي خو زه ډېر وارخطا وم .

خدایداد د تم ځای څخه موټر روون کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــــــــګ ولــــــــــــې دی؟

سرک ته وختلو د سرې میاشتې د امبولانسونو شور ماشور وو لاره هم بنده وه له نیم ساعت وروسته مو لاره خلاصه شوه او موټر مو روان کړو.

د چاودنې ځای ته روان شو، خو چې لږ مخکې ورغلو هلته امنیتي ځواکونو زموږ لاره یو ځل بیا بنده کړه ویل مخکې نشې تلای دلته تم شئ.

خدایداد ورته زیات کلک شو ، چې موږ هم درسره خلک ژغورو ، خو عسکرو زموږ مخه کلکه نیولې وه.

موږ بېرته راوګرځېدو، نو یو بل دکان ته ولاړو هلته مو نور د خوراک توکي راونیول، خدایداد ټول توکي موټر ته پورته کړل او بیرته کلي ته راوګرځېدو. په لاره راروان و .

د خدایداد په موبایل زنګ راغی، له خپل جېب څخه یې موبایل راوباسه او پورته یې کړ.

سلام ................... خدایداد مظلوم یار صیب غږ مې اورئ.

مظلوم یار صیب ـ وعلیکم سلام ........

مهرباني غږ مو اورم خیرت خو به وي.

مظلوم یار صیب زه بریدمن یعقوب خبرې کوم.

مظلوم یار- حوصله وکړه دومره ورخطا ولې یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــك ولـــــــــــي دی؟

برید من یعقوب – مظلوم یار صیب ، مظلوم یار صیب..

په دې خبره کې برید من یعقوب په ژړا شو . مظلوم یار صیب ورته وویل ، ولې زمریه څه شوي دي ...؟

ژر کوه څه پېښه شوې.............؟

برید من یعقوب – مظلوم یار صیب ، قهرمان او شیرعلي شهیدان شول ، موږ د جګړې سخت ډګر کې یو. مظلوم یار صیب کیدای شي زما د شهادت وخت هم رانږدې شي. برید من دا خبرې په ژړا کې وکړې.

مظلوم یار صیب حق دې راته وښه ډېر ښه وخت مو تېر کړی دی. ما چې د برید من یعقوب خبرې واورېدې په مخ مې اوښکو لارې وکړې مظلوم یار صیب هم ژړل او له خولې يې دغه کلمه ووتله ....

انا الله وانا ............

مظلوم یار صیب ورته وویل: زمریه ته نشې مړ کېدلای .

زه راځم ، زه خو لا ژوندی یم ډېر ژر به راشم.

مظلوم یار صیب د موټر سرعت تېز کړ موږ ډېر لږ وخت کې کلي ته ورسېدو . موږ چې د کلي په لار روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنــــــــګ ولـــــــــــې دی؟

مظلوم یار صیب راته وویل چې دا خبره تر بل چا ونه رسوې ، چې زما ملګري شهیدان شو او هلته جګړه سخته روانه ده او زه جګړې ته ځم.

کله چې مو کور راورسید، نو مظلوم یار صیب ټول توکي راسره د موټر نه ښکته کړل او په مخه لاړه.

مظلوم یار صیب د موټر سرعت ډېر تیز کړ سم دم مې له سترګو پناه شو.

مور مې د سودا په لیدو د پاک الله شکر ادا کړ او مظلوم یار صیب او د هغه ملګرو ته یې دعا وکړه.

ماته چې مظلوم یار صیب ویلي وو چې خپل ښوونځي ته ځه او درس دې وایه؛ نو سبا ګهیځ ښوونځي ته لاړم ماته چې مظلوم یار صیب نوې بکسه ، ښایسته جامې او ښکلي بوټان اخیستي وو زیات خوشحاله ووم.

کله مې چې مور په دغسې ښکلي لباس کې ولیدم نو د خوشحالۍ څخه یې په سترګو کې اوښکې راغلې.

زه روان شوم ښوونځي ته کله چې به همزولو لیدم نو زما څنګ ته به راتله او خبرې به یې په ډېرې مینې راسره کولې . مخکې به مې زړې پیوندي جامې او پښې ابله وې نو چا به مې سلام هم نه اخیسته.

ځکه چې زه یو یتیم وم او یتیم ته خلکو سپېره ویلې. هغه ملګري مې څنګ ته راغلل چې یوه ورځ یې د لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــــګ ولـــــــــــــي دی؟

ما ډوډۍ تښتولې وه ځکه چې زه ډېر زيات وږی وم. بيا هغه ملګري ماته د ښوونځي مخې ته لار هم نيولې وه او د ډوډۍ په بدل يې سخت وهلی وم.

ماته يې وويل!

ته هغه نه يې چې له ما څخه دې ډوډۍ تښتولې وه ؟ ما ورته وويل بالکل، همغه يم ؛ نو راته يې وويل ته خو هغه سپېره يتيم وې دا نن څنګه زموږ څخه دې پاکې جامې دي؟ ما ورته د خپل پلار د شهادت نه شروع او د مظلوم يار صيب تر ښيګڼې تولې کيسه وکړه. ملګرو چې زما کيسه واورېدله ډېر سخت خواشيني شول. د خپلې غلطۍ ښښنه يې را څخه وغوښتله ما ورته وويل، چې ښښنه بايد زه وغواړم ځکه چې ستا د لاس ډوډۍ مې تښتولې وه ملګري راته وويل که زه داسې خبر وم چې په تاسو دومره سخته ده ؛ نو والله چې خپل زړه مې هم درکاوه.

په دغه ساعت يې د ښوونځي زنګ وواهه. موږ هم ښوونځي څخه رخصت شو. د ښوونځي څخه کور ته راروان وم، نو ماته هم د مظلوم يار صيب خبره يادېده، چې کور کلي کې مه وايه او هغه د بريدمن يعقوب خبرې هم ډېر خفه کولم ، چې ويل يې مونږ هم اوس شهيدان کيږو. بس وخت تېرېده يوه اوونۍ ووتله، خو زه لا هغسې خفه وم د مظلوم يار صيب معلومات هم نه کېده. وخت تيرېدو په بله ورځ سهار چې د جومات څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــګ ولـــــــــــي دی؟

کور ته راتلم، نو څنګه چې د کور په دروازه راننوتلم نو مور مې ویل خدایه خیر کړې کارغه نارې وهي چې څه پیښه به شوي وي نو ومې ویل خدایه ته يې د ښو زېرې وکړې. بس زه خونې ته لاړم زیات خفه وم مور ته مې هم حال نه ویلې مور مې راته ویل زویه چای وڅښه بیا ښوونځي ته ولاړ شه. ما ورته ویل مورې چای مې نه تېرېږي نن چای نه څښم نو ښوونځي ته ولاړم په دوهم ساعت کې د یو معلم راته پام شو. ماته يې ویل پاسه زویه ولې داسې خفه يې ؟

معلم صیب ته مې وویلې ، چې څه خبره نشته نه یم خفه بس دغه وخت کې لړزې واخیستم او سترګې مې ډکې شوې ما له خپل هېواد سره ډېره زیاته مینه لرله بس د هېواد په ناامنۍ ډېر خفه وم. هلته د ښار ځانمرګي ، هلته د جګړې صحنه دا یو ولایت نه دی ، چې هلته جنګ دی بلکې ټول هیواد کې جنګ دی.

زه پوهېدم ، چې په جګړه کې کوم بل څوک نه مړه کیږي بس ټول چې وژل کیږي . زه ، ته ، ښوونکی ، ملا ، خو بس سر سري مو وژني او بیا جګړه هم فکري جګړه ده.

ښه،

ښوونکی مې خواته راغی ټولو شاګردانو ماته کتل زه هلته اوس په لوړې خفه نه وم ، د پلار په شهادت دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولــــــــــې دی؟

خفه نه وم بس ماسره مينه وه هغه هم د خپل هېواد. د خپلو وګړو چې ولې بې ګناه مري؟

ښوونکي ته مې ويل معلم صيب زمونږ د هېواد والو ګناه څه ده او دا څنګه جګړه ده ، چې له مونږ څخه يې د سر سړي ټول واخيستل دا څومره ماشومان يې يتيمانان کړل او دا څومره خلک يې ګوډان ، ړانده ، بې لاسو کړل؟

ولې زمونږ په ښار کې سوالګر زياتيږي ، ولې مو بې ګناه وګړي داسې وژني ته به وايې چې کافر وژني ولې اخر ګناه مو څه ده؟

چاته ورشو؟ چاته ګيله وکړو؟ ايا څوک شته ، چې غږ مو واوري؟ زما اوښکې تر ګرېوان راورسېدې ، د ټولګي شاګردانو کې هم د ځينو سترګې راډکې وې. ښوونکی راغی زه يې له سينې سره ونيولم.

ماته يې ويل زويه مونږ په دې پوهيږو ، چې جګړه پردۍ ده او قربانيان يې مونږ يوو.

ستا د دې ټولو خبرو ځواب دادی ، چې يو زمونږ په معاشره کې بيسوادي زياته ده دخلکو تر منځ غربت ، فقيري د يو بل په خبره ځان نه پوه کول ، خپل ځان تر هر څه اوچت ګڼل خپلې مور ته د د ارزښت په سترګه نه کتل دا ټول هغه لاملونه دي چې نن مونږ او تاسې نه پرېږدي چې پر مخ لاړ شو. بس معلم صيب ته مې د مظلوم يار صيب خبره وکړه ، نو هغه راته وويل ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولــــــــــې دی؟

څه خدای ته منظوره وي په هغه صبر وکړه بس له ښوونځي څخه رخصت شوم په لاره روان وم ډېر خواشینی وم.

د لارې څنګ ته د چنار ونې خزان وهلې وې ، ژیړې

پاڼې د لارې غاړې ته د ونو لاندې پرتې وې زه هم د خپل کور په لور روان وم ، ناڅاپه یو غږ مې واورېده ، چې هلته یوه سپین سرې ښځه وه ، د خپل پنډ سره څنګ کې ناسته وه .

هغه د چنارونو ژیړې پاڼې یې په لاس راټولې کړې وې او پنډ یې نشو پورته کولای ، ما ته یې وویل زویه دا پنډ خو لږ راجګ کړه . ما هم لکه د خپلې مور غږ چې اورېدلی وي.

د چنار د زیړوشوو پاڼو پنډ مې هغې بوډۍ ته ورپورته کړ راته یې ډېرې دعا ګانې وکړې ، کورته روان شوم بس داسې مې وګڼله ، چې د بوډۍ دعا خدای پاک قبوله کړه.

کله چې کورته لاړم ورړی وم مور مې ویل زویه کالي دې بدل کړه او ډوډۍ دې وخوره مور مې راته ډوډۍ کېښودله ، خو د پریشانۍ د وجې مې چېرته ډوډۍ تیرېدله؟ بس د اوبو په زور مې وخوړه، لا مې درې څلور مړۍ نه وې پورته کړې په کوڅه کې مې د موټر غږ واورېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولـــــــــې دی؟

بس ما هم منډه کړه کوځې ته راووتلم چې ومې کتل مظلوم یار صیب په موټر کې ناست دی موټر یې راروان کړی دی. خو ښه رانږدې شو زه له خوښۍ ځخه په ژړا وم خو مظلوم یار صیب موټر ودراوه.

د موټر ځخه چې راښکته کېده ؛ نو داسې سم نشو راښکته کېدلی ما له ځان سره فکر وکړ چې خدای مکړه په مظلوم یار صیب باندې څه شوي نه وي ، خو چې مظلوم یار صیب د چکشونو سره راښکته شو یوه پښه یې نه وه ، بس ما کریکه کړه ، اې خدایه ته دا ظلم وګوره د مظلوم یار صیب پښه په لینګي کې پرې شوې وه ما چې سپین پلستر ولیده ډېر سخت خفه شوم مظلوم یار صیب ماته راټیټ شو ویل یې زویه دا د خدای پاک رضا وه.

زه د خدای پاک په رضا راضي یم ته مه خفه کیږه ما د کور په دروازه ورمنډه کړله.

ادې ادې.............!

مظلوم یار صیب راغلی دی او پښه یې نیمه نشته مور مې هم خفه شوه او له سترګو ځخه یې اوښکې لاړې د کور په انګړ کې مې د کټ ځخه د ډوډۍ لوښي ښکته کړل او مظلوم یار صیب راغی. ما ورته وویل په چکشونو راروان وو ډېر سخت زور یې راکړ او دښمن ته مې د زړه ځخه ازار وواته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولـــــــــې دی؟

مظلوم یار صیب کېناست ما ورته اوبه راوړې ما ورته وویل چې کاکا دا پښه دې ولې ماته ده؟ د جنګ کیسه یې شروع کړله.

مظلوم یار صیب : زه ماخوستن ناوخته ورسېدم جګړه زموږ د مرکز څخه لمر خاته لورته په څلور کیلو مترئ کې وه ما چې موټر ودراوه نو لباس مې ژر ژر بدل کړ. خپل ملي بیرغ مې د ټټر سره نږدې کېښود زما عادت وو کله به هم چې جګړې ته تلم نو ملي بیرغ به مې په سینه پورې تړلی وو ما سره درې نور سرتیري هم شول لاړو د جګړې ډګر ته. سخته جګړه نښتې وه موږ چې ولیدل د سرې میاشتې په موټرو کې تابوتونه لیږدېدل.

ټولو ورته سلامي کوله د سرتېرو سترګې سرې اوښتې وې ډېر سخت خواشینی وم، او زه یې د جګړې لومړي خط څخه منع کولم خو ما د وطن مینه د تن په مینه نشوی بدلولای.

لاړم د جګړې میدان ته د ډېر وخت د جګړې څخه وروسته دښمن ورو ورو په شا روان وو موږ د الله ج په مرسته خپلې جګړې ته دوام ورکړی وو.

موږ لږ مخکې ولاړو یو ځای کې مورچه شو ماسره په څنګ کې یو ځو سرتېري ول جګړه ډېره سخته وه.

موږ د خپلو ملګرو په شهادت ډېر خفه وو. زمونږ په دېرش مترئ کې یو کور و. د هغه کور څخه د ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنــــــــک ولــــــــــې دی؟

ژړا راتله، ډېرې کريکې يې وهلې، چې د فکر نه وتلې خبره وه، په څنګ کې مې شهيد زمرک و ماته يې وويل چې قومندان صيب دا ماشوم ژغورم اجازه راکړئ ، چې ورشم نو ما ورته اجازه ورنکړه؛ خو د ماشوم کريکې هم هغسې وې دلته د سرتېرو سره د خوراک هم څه نه وو، ملګري مو هم شهيدان شوي وو. خو د ماشوم ژړا د زغملو نه وه خو خدای ښنلی زمرک ډېر د نرم زړه څښتن و ماته يې وويل قومندان صيب لاړم ماشوم ژغورم خو بغير د اجازې لاړ، سرغړونه يې وکړه.

د مظلوم يار صيب خبره کې زه ورولوېدم .

مظلوم يار صيب تاسو ولې زياتی کاوه؟ اجازه خو به دې ورکړې وه ، مظلوم يار صيب راته وويل چې جګړه بايد د جګړه ييزو اصولو له مخې وشي.

جګړه خپل اصول لري خو همدا وجه وه، چې زمرک شهيد شو.

ما مظلوم يار صيب ته بيا وويل، مظلوم يار صيب څنګه اصول ؟

مظلوم يار صيب راته وويل : ته ما لږ پرېږده، چې کيسه درته وکړم، ما له مظلوم يار صيب څخه ښننه وغوښتله.

ښه! مظلوم يار صيب زمرک بيا ماشوم وژغوره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــک ولـــــــــې دی؟

مظلوم یار صیب – زمرک پسې ما ورغړ کړ، چې مخکې مه ورځه خو هغه بېچاره د ماشوم کریکې نشوې برداشت کولای، چې ځنګه د کور دروازې ته ننواته.

وحشي دښمنانو وربانديې انداخت وکړ او زمرک په ټټر ولګېده له ماشوم سره زمرک په ځمکه ولوېده؛ نو ماسره د ځنګ سرتيري ډېراحساساتي شول خو ما منع کړل. ما ورته ويل په جنګ کې د خپل امير خبره نه منل غټه ګناه ده.

زمرک څخه لا ساه نه وه وتلې په ځمکې لغړېدو ډېر زيات زخمي و ما سرتيري نه پرېښودل.

د مظلوم يار صيب کيسې ته مې غوږ اېښی و زما فکر هم نه و سترګې مې دومره راډکې شوې وې چې ښاڅکي مې په لمن ولوېدل .

مظلوم یار صیب - ما سرتېري نه پرېښودل ، چې هلته د زمرک خواته لاړ شي په دې کې د دښمن چال و.

زمرک ډېر زيات زګيروي کول او کليمه شهادت يې ويله. له ما څخه هم صبر نه کېده د يو خوا څخه د ماشوم کريکې د بل خوا د زمرک زګيروي!!!

توبه توبه ...............

قيامت و په دې وخت کې مو يو بل سرتېرى جدى شو ويل يې زه دومره نشم بزدله کيدلاى ، چې زما ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موريِ! دا جنــــــــــګ ولــــــــــــي دی؟

دې په شهادت رسيږي او اوبه هم نشم وروړای خو مونږ منع کولو هغه ډېر زيات جدي و اخر يې خپله تمانچه راواخيسته ويل يې که ما نه پريږدئ دلته خپل ځان ولم دا له ما څخه نه برداشت کيږي.

هغه له خولې څخه يوه تېزه چغه وباسله زمرکه وروره! ته نشې مړکيدلای زه دا اوبه دروړم ؛ نو چې کله د زمرک خواته دی رسېده.

ما ويل آخ آخ ...............

په دغه سرتېري هم انداخت وشو او هلته شهيد شو دواړه په شهادت ورسېدل. زمرک او توريالی.

جګړې زور اخيستي و زمونږ نور سرتيري د جګړې مخکې ميدان ته تللي وو ماته د قادر مخابره راغله.

قومندان صيب اورې ما ورته ويل اورم خو هغه بيا وويل – قومندان صيب اورې زه يم قادر دلته مونږ محاصره شو.

د دښمن تعداد زيات دی شاوخوا په شمار پنځوس دی. بايد مرکز څخه مرسته وغواړئ مونږ ټول اووه تنه يوو ما ورته وويل زمريه حوصله مه بايله.

زمونږ يو سرتېری د لسو برابر دی او ان شا الله بری زمونږ ده . د قادر مخابره بنده شوه ما مرکز ته مخابره کوله مرکز ته هم مخابره نکېده بس دلته يو جګړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولـــــــــــې دی؟

بلکې قیامت و هلته مې د ماشوم کریکې له حوصلې څخه وتلې وې خو مونږ دلته د دښمن د ګوزار په طمع وو چې دا دښمن به دکور هغوی هم ماشوم د قصده زخمي کړی و ویل یې چې سرتېری به یې د ژغورلو لپاره راځي او موږ به یې دلته وژنو ، خو ناڅاپه کور څخه اته تنه راووتل.

وسلې ورسره وې ما چې له څو سرتیرو ته ویلې چې تعقیب یې کړئ. دژې ورباندې ونکړئ نو سرتېرو بیا هغه کسان هلته ووژل. بیا خبره پاتې شوه چې کور کې نور دښمنان شته؟. ماشوم هم هغسې چغې وهلې .

ما سرتېرو ته وویل ، چې دا ځای مه پرېږدئ او زه ځم چې ماشوم وژغورم. سرتېرو هم غوښتل چې راسره ولاړ شي خو له بل خوا د دښمن معلومات نه کېده، چې په کوم ځای کې پټ دی. ما هغوی منع کړل.

زه ورو ورو ورروان شوم ، د کور په دروازه کې مې د توپنګچې بوټ راکش کړ ورو ورو د ماشوم خواته روان وم په کور کې یوه برانده وه ماشوم په هغه برانده کې ولاړ و او ژړل یې د مټ څخه یې وینه هم بهېدله.

ما ماشوم په غیږ کې راپورته کړ؛ نو ناڅاپه راباندې دښمن انداخت وکړ. ماته دښمن نه معلومېده، چې د کوم خوا نه یې انداخت وکړ؟ ما د ماشوم د بچ کولو په خاطر په دروازه ورمنډه کړه، چې د ماشوم رنګ ژیړ اوښتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موري! دا جنـــــــــګ ولـــــــــــې دی؟**

و. وینه ورڅخه تللې وه کله چې د دروازې خواته رسېدلم نو وحشي دښمنانو په پښه وویشتلم.

زما پښه زخمي شوه زه له هغه زخمي ماشوم سره د دروازې مخې ته په کوڅه کې وغورځېدلم.

په پښه مې سخت درد شو راپورته کېدلم ، چې ماشوم وژغورم څنګه چې پورته شوم بیا راوغورځېدلم. سرتېرو ولیدم لکه زمریان چې راخلاص کړې مړ.رچل یې پرېښود او زه یې پورته کړم. ماشوم یې هم اوچت کړ، تر مورچله یې ورساوه. هلته یې زما پښه  او د ماشوم د مټ تداوي وکړه، ماشوم ته یې امبولانس راوغوښت.

خو آخ ، آخ ..............

ماشوم هغه چیغې مې نه هېرېږي ، ما مظلوم یار صیب ته ورغبرګه کړه ، مظلوم یار صیب ماشوم څنګه چیغې وهلې؟ زه ډېر سخت خفه ناست وم د مظلوم یار صیب کیسې ته مې غوږ ایښی و ما ورته ویل مظلوم یار صیب ماشوم څنګه ............

څنګه چیغې وهلې؟

مظلوم یار صیب – د ماشوم مټ زخمي وو ځکه یې چیغې وهلې.

وا مورې! چېرته یې مړ کېږم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــګ ولـــــــــې دی؟

مورې ټول د ماشوم چيغو ته بې صبره شو. مورې د کور په دروازه ورمنډه کړله چې د کور نور اوسېدونکي وژغورو د کور په انګړ کې تقسيم شو، ما بيا ورغبرګه کړه.

مظوم يار صيب ستا خو پښه هم زخمي وه بايد پاتې شوی وې، نه وراره ګله! زما په وجود کې تر څو چې يو ځاځکی وينه وي ؛ نو د خپلې مور يانې وطن څخه به يې وه نه سپموم.

ما ورته بيا ويل ښه مظلوم يار صيب بيا څه وشو هلته چې تاسو په انګړ کې تقسيم شوی نو دښمن څه وکړل؟ مظلوم يار صيب راته وايي ته غوږ شه لېونيه!

زه درته وايم. زه ډېر بې صبره وم ، دښمن ته به مې ډېره غوسه راتله او ماشوم باندې زيات خفه شوم.

د هغې خوا مې مور راغږ کو، چې کاکا دې کيسې ته پرېږده. زه چپ کېناستلم ، مظلوم يار صيب مورې د کور په خونو پيل وکړ، چې خونې وګورو او د کور اوسېدونکي د دښمن څخه وژغورو. مورې د خونو په کتلو پيل وکړو ، لومړۍ خونې ته زه د ټولو مخکې ورننوتلم په خونه کې څوک نه وو ما سربازانو ته ويل ، چې څوک نشته بيا چې دويمې خونې ته لاړو هلته هم څوک نه وو. په کور کې ټولې څلور خونې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــــــګ ولــــــــــــــــي دی؟

پاتې دوې خونې وې ، په بله خونه چې زه څنګه ورننوتلم ؛ نو څلور تنه دښمنان پکې ول.

ماته يې ويل وسله دې وغورځوه لاسونه پورته کړه.

سرتېري وروسته په دروازه کې پاتې شول خونې ته لا نه وو راننوتلي او دښمن هم نه وو خبر ، چې نور سرتېري هم ورسره کور ته راننوتلي دي.

خو بالاخره زه يې خالي سلاح کړم، لاسونه مې پورته کړل، دښمنانو ونيولم . ډېر سخت ناهيلی شوم يو خوا د سرتېرو شهيد کېدل بل خوا د ماشوم چيغې او له يوې خوا مې پښه هم زخمي وه ، خو زما په سرتېرو پوره اعتماد وو، چې ما به له دښمن څخه ژغوري.

هغوی هم خبر شول، چې مظلوم يار صيب د دښمن ولکې ته غورځېدلی دی او په دغه خونه کې دښمن شته .

په هغوی کې يو راغږ کړ، چې تاسو بايد خپل ځانونه تسليم کړئ. موږ تاسو ته هيڅ هم نه وايو او نه مو وژنو بېرون ټوله سيمه زموږ تر محاصرې لاندې ده.

يو چاره هم بله نلرئ زما څنګ ته يو وحشي دښمن و.

هغه زه په لغته ووهلم ويل يې چې دلته به درته دغه سړی مردار کړو، تاسو موږ ته هيڅ هم نشی ويلای. بيا هغوی را غږ کړل، چې بېرون ټول ځای زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــــــګ ولـــــــــــــي دی؟

سرتېرو څخه ډک دی او جګړه ختمه ده تاسو دلته بند پاتې شوئ باید ځان موږ ته تسلیم کړئ.

ما بیا د مظلوم یار صیب خبره ونیوله ، آیا ربښتیا بیرون ستاسو سرتېري ول او جګړه ختمه وه؟

مظلوم یار صیب راته وویل نه هغه سرباز دښمنان خطا ایستل ؛ نو دښمنانو هم خپل منځ کې ویل چې ځان باید ورته تسلیم کړو ، چې موږ دلته بند پاتې یو ؛ نو سرتېرو ته یې وویل په موږ باندې به ډز نکوئ موږ تسلیمیږو. سرتېري وویل:

ښه، وسلې مو وغورځوئ لاسونه پورته کړئ او د کوټې د دروازې څخه بېرون راووځئ. نو یو یو به لاسونه پورته کول او بېرون به سرتېرو ولچک کول بالاخره ماته راغله وایي قومندان صیب .............

قومندان صیب په تا خو څه نه دي شوي ما ویل نه شکر دی، روغ یم، دغو کسانو ته مې ویل ، چې کور کې نور څوک دي؟

هغوی له مخکې هم غوسه وو ویل یې تاسو له موږ سره دوکه وکړه ما ورته ویل دوکه خو تاسو د خپل ځان سره وکړه.

دا ظلمونه چې کوئ د خدایه نه ډارېږی؟ ښه، اوس وایه نورڅوک شته هغوی ویل نه د کور هغه بله کوټه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــــګ ولـــــــــــې دی؟

ولټوله د کور اوسېدونکي په کې دغو ظالمانو تړلي وو سخت درد او غوسه راغله .

دوی مې دوې دوې څپېړې ووهل.

هغوی مو وژغورل دغه کور او کلی پاک شو؛ نو غوښتل مې چې د قادر خبر واخلم مخابره مې راواخیستله.

قادره قادره اورې...............

نو د قادر غږ مې داسې واورېده لکه قادر چې سخت زخمي وي خبرې یې سمې نه راتلې .

ما ورته ویل زمریه حوصله مه بایله مورږ درغلو ما مرکز ته بیا مخابره وکړه او له نېکه مرغه مخابره رخ شوه ما ورته وویل چې مرسته راولیږۍ.

سرتېري ډېر شهیدان شول ، د دښمن تعداد زیات دی نو هغوی هم چورلکې پورته کړې او په رینجرو کې نور مرستندویه ځواکونه راورسېدل، د قادر دوی خواته ورغلل.

ډېر په ګڼ شمېر د مرکز څخه سرتېري راغله ، جګړه لږ سړه شوه دښمنان مو تقریبا اویا تنه ژوندي ونیول او د سلو څخه زیات وژل شوي وو.

زموږ ۴۱ سرتېري شهیدان شوي وو د جګړې سیمه داسې راته ښکارېدله چې دلته یو قیامت تېر شوی، وینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورې! دا جنـــــــک ولـــــــــې دی؟

پرتې وې زما د پښې درد د برداشت څخه وتلی وو ، بې هوښه شوم .

هغوی زه امبولانس ته پورته کړی وم ، چې کله په هوښ کې راغلم ؛ نو هلته ډاکټرانو ویل چې پښه یې توره اوښتې ده.

پر وخت یې باید تداوي شوې وای، پښه به ورڅخه اوس پریکوئ ګنې نوره خطره یې هم زیاتېږي ، خو ما اجازه ډاکټر ته ورنکړه ، چې زما پښه دې غوڅه کړي، ډاکټرانو ما ته ډېر وویل که غوڅه یې نکړې هډوکي دې تور شوي او د کینسر خطره ده باید غوڅه یې کړئ د سترګو مې اوښکې روانې شوې او سخت درد راغی .

بالاخره مې اجازه ورکړه او هغوی زه بې هوښه کړم . زما پښه یې پرې کړله ، کله چې په هوښ کې راغلم .

آه !

د پښې مې پلستر تاو و او پښه مې نوره نه وه ، بس دا به د خدای پاک رضا وه.

ما ورته ویل ښه مظلوم یار صیب دا خو په تاسو سم قیامت تیر شوی دی کاش چې ستاسو پښه نه وه غوڅه شوې ستا پر ځای دې زما غبرګې پښې غوڅې وای نه ستا پښه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موري! دا جنـــــــګ ولـــــــــــي دی؟

مظلوم يار صيب وويل نه وراره داسې مه وايه زه د دې مور( وطن ) لپاره ترسره هم تير يم.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندلیک

الله محمد پکتیاوال د حاجي مصري خان زوی چې په کال ۱۹۹۳ زېږدیز کې د خیبر پښتونخوا د سوابۍ په سیمه کې دې فاني دنیا ته سترګې غړولې دي.

لومړنۍ او منځنۍ زدکړې یې د سوابۍ د بره کې کیمپ د افغان کډوالو ۱۱۶م نمبر ښوونځي کې کړې دي ، بیا وروسته په ۲۰۰۷ زېږدیز کال د سوابۍ د حضرت سعد بن ابي وقاص (رض) په عالي لیسې کې شامل او په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې د نوموړې لیسې څخه فارغ شو.

نوموړی له پښتو ژبې سره ډېره زیاته مینه لري، تل پر خپل فېسبوک او فېسبوکپاڼو ادبي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

موري! دا جنـــــــک ولـــــــــي دی؟

**هنري خپرونې کوي، پر خپلو خپرونو کې ادبي څېړې ، ادیبان او لیکوالان مېلمانه کوي، پر فېسبوک د ادبي فعالیت او هڅو له کبله د زیاتو مینوالو درلودونکی دی. زه یې په هر ډګر کې بریالی او برلاسی غواړم.**

**هـ ، ف**



(c) ketabton.com: The Digital Library

د برېښنا تار پرې کړلې وزرې د کوتــرې

ښــکارې په لاس کې دام ، خبرې د کوترې

د سولې سمبول د امن يو داستـــــــان ده

دا مونږ چې اورو دا ســـــدرې د کوترې

الله محمد پکتياوال



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**